مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۹/۱۴

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# پینځم توک

دوه سوه او نهه شپیتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**عثمان زي:** دا د اڅکزیو یوه کوچنی څانګه ده چي له «آشا زیو» [1] سره متصل دي. ویل سوي چي دوی ربښتوني اڅکزي نـهٔ دي. دوی دوې څانګي لري:

| | | |
|---|---|---|
| میرا زي | Mirazai | ۲۰۰ جنګیالي |
| مِهدا زي | Mehdadzai | ۳۰۰ جنګیالي |

د جنګیالیو پورتنی شمیره هغه شمیره ده چي دا کسان عملاً د جګړېیزو موخو لپاره موجود دي. عثمانزي په خپله نسبتاً تیت او ګډوډ دي؛ دوی په «زرین»، «تاخي»»، «اوبـهٔ تو» [2] او «کرواري»، «ګواجهه»، «سپین تیجهه» [3] بنایي سمه بنه ئـي سپینه تیره وي – ژ] کي موندل کیږي چي دا تولي سیمي د خواجه عمران په لویدیځ اړخ کي دي. د میرا زیو د فرعي څانګي یو شمیر د دې لړۍ په بله خوا کي د «شاسته» [4] په تنګي کي او تنګي ته نیږدې شاوخواوو کي ژوند کوي او مدعي دي چي د «تنګ» له سیمي څخه د «تور روی دات» [5] تر غرهٔ پورې سیمه د دوی ده. میرازي بـنهٔ شهرت نـهٔ لري خو عثمان زي په ټوله کي ډیر بې ضرره خلک دي. دوی شپانـهٔ دي او همدا شان لږ کرهنه هم کوي. په دوبي کي دوی «توبي» ته کډه کیږي. د احمد شاه «بابا – ژ» پر مهال دوی د قاعدي له مخي دراني لښکر ته لس تنه جنګیالي ته لیږل. «میتلند»

---

[1] - Ashazais
[2] - Zarin, Takhai Obatu
[3] - Karwari, Gwajha, Spintijha
[4] - Shasta
[5] - Tor Ruidat


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنـي د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**اتکان:** ـ۳۱، ـ ۶۸: دا له تره کي تيوري ښخه تر مقر پوري د لاري په اوږدو کي د دمي نيولو يو ځای دی. دلته د تره کو ځو کلي سته ؛ دې ځای ته نيږدې يو شمير کرهڼه هم سوې ده، همدا رنګه دا ځای د ښاه اوبـۀ هم لري چي نسبتاً تروې دي. «بومي معلومات ۱۸۹۲»

**اتمان زي**: ۳۴ – ۲۸،۳۱ – ۶۶ «ن»: دا د بارکزيو دوه کلي دي چي د ارغسان د سيند پر غاړې له هغـۀ ټکي لږ پورته واقع دي چي د سيند په بله غاړه کي له ارغسان سره خشک رود يو ځای کيږي. سويلي کلی ئـې ۴۰ يا ۵۰ کورونه لري او شمالي کلی ئـې تقريباً ۲۵ کورونه لري. مسي وايي چي دا کلي د سيند په بله غاړه کي «سندر زيو» ته مخامخ موقعيت لري. «مسي. کليفرډ» *په دې نوم يو بل کلی په ۲۴ – ۳۱، ۳۶ – ۶۵ «ن» کې موقعيت لري.*

* **ازبک:** «وزبيک – ژ»: ۵۸ – ۳۳، ۱۴ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کي د «شيخيران» او د «سيان درې» [6] د درو د سيندونو تر منځ نيمايي لاره کي يو کلی دی.

**اوږده وَر:** اوژده وار: [7]: ۴۹ – ۳۱، ۹ – ۶۹ «الف» دا د بلوڅ پر پولي د ۴۰ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی.بي.سي. ۱۹۰۵» اوسنی سرچيني د «اوږده مانده» [8] نوم هم ورکوي.

**وچ:** دا د ښوراوک په درې يا ناله کي چي د «ګوازه» [9] د سويل په ۴ مايلی کي د دښتي پر لور له سرحدي غرونو ښخه را کوزيږي. «آی. بي. سي.»

**وچکی:** ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا يوه ناله ده چي د وندوز له ښنی غاړې سره له هغـۀ ټکي تقريباً ۱ مايل پورته يو ځای کيږي چي وندوز د ارغسان سيند ته ورغورځي. د وچکی د نالي پر غاړې د سيف الله کلی واقع دی. «مسي»

* **وغمير:** ۳۴ – ۳۳،۹ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کي د ګيزاب د شمال لويديځ په تقريباً ۱۲ مايلی کي د هلمند د سيند د يوې ښانګي پر غاړې يو کلی دی.

**واحد:** ۱۴ – ۳۲، ۱۵ – ۶۵ «ن»: لوړوالی: ۵۰۰۰ فيټه. دا د محراب د غرنی لړی په منځ کي د کندهار د شمال – شمال لويديځ په تقريباً ۵۴ مايلی کي يو کوتل دی.

د واحد دره د غورک د درې شمالي منتهی ده. دا غرنی لړۍ د محراب تنګي سورې کړې ده چي تقريباً مخ پر شمال او سويل د يوۀ پام وړ واټن لپاره د هلمند د سيند له بهير سره موازي پر مخ تللی دی، دا کوتل په همدې لور کي د ۶۰۰۰ فيټو لوړوالي ثابت جګوالی ساتي. له دې کوتل ښخه پلي سرتيري تيريدلای سي او نورو کوتلونه نـۀ سته. دهراوټ ته منتهي کيدونکي لاره چي د واحد له درې ښخه تيريږي «درۀ کار» [10] ته تللې ده. «ليچ» اوسنی نقشي «د واحد غر» [11] نوم ښيي.

**واحد – و- اولما** [12]: ـ ۳۲، ـ ۶۵: دا د کندهار د شمال په تقريباً ۴۰ مايلی کي د خاکريز په شمال کي يو کلی دی. «بيسکو»

**وکيل کلی:** ۱۳ – ۳۱، ۹ – ۶۶ «ن»: دا کندهار ته د تللي سرک پر غاړې د سپين بولدک د شمال په تقريباً ۴ مايلی کي، د ميل په سيمي کي يو کلی دی.

---

[6] - Shaikhiran and the Siandara streams
[7] - UZHDAWAR
[8] - Uzhdah Mandah
[9] -Gwaza
[10] - Dara- i -Kar
[11] - De Wahad Ghar
[12] - WAHID -O -ULMA


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**ولکان:** ۳۳ – ۳۱، ۴۰ – ۶۵ «الف»: دا د کندهار د سویل لویدیځ په ۵ مایلۍ کې د کاریزک د لویدیځ په ۱ مایلی کې یو کلی دی. ولکان یو له هغو څلورو کلیو څخه وو چې استوګن وګړی ئې پارسیوانان ول. «بیسکو»

**ولور:** دا د بلوخ پر پوله د ۲۴ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

**ولې (ونه – ژ): یا: ګِت**:[13] ۱ – ۳۰، ۱۳ – ۶۶: لوړوالی ۵۹۰۰ فیټه. دا د سرلت په غرنی لړۍ کې اساسي کوتل دی. دا کوتل په لویدیځ شارود کې له ایلتاز کاریز څخه په ښوراوک کې تر میرو خان یا زبر دست پورې لاره ورکوي. د ایلتاز د کاریز د کمپ له سیمي څخه غرونه یو ناڅاپه راپیدا کیږي. دلته غرونه ټیټ مهمیزونه لري، دا مهمیزونه له اساسي خط الرأس څخه په ځانګو راجلا سوي دي او په دې خوا کې دا مهمیزونه د اهمیت وړ نـهٔ دي او کوچني دي. د ۴۰۰ فیټو په ثابت لوړوالي لاره چې د اوښانو د تګ لپاره مساعده ده په ۳۱ ام مایل کې د کوتل سرته رسیږي، د کوتل سر ۵۹۰۰ فیټه لوړ دی په بله وینا د ښوراوک د دښتې له سطحي څخه پورته ۲۸۰۰ فیټه لوړ دی. د کوتل له سره یو ښکلی منظر تر لاسه کیږي. په لویدیځ کې ښوراوک د نقشي د مخ په شان پلن د سرې سترګو ته وغځیږي او د سترګو د لید منظر لیرې ان د سرو شګو غرونو ته چې له دښتې ور هاخوا واقع دي رسیږي. په مخالف لور کې له عظمته ډک «چهل تن غر» ولاړ دی چې د شارود د غرونو له سرونو دنګ پورته تللی او لیرې کوهٔ میران مو ترسترګو کیږي چې په سویل ختیځ افق کې ځان په مکیزونو ننداري ته وړاندې کوي. د کوتل له سره کښته کیدل د یوې اوږدوې او ډیرې تنګې او ډیرې شیوه درې له لارې کیږي؛ دا دره په لومړیو کې ۶۰ یارده ارته ده او د کوزیدلو سختوالی ئـې ۱ په ۶ کې د سلیټ د ډبرینو قشرونو پر سر ده، که څه هم لاره ناهمواره ده خو د اوښ د ګامونو د ټینګیدلو لپاره ښه ده. له نورو ۴۰ یاردو وروسته لاره دومره توندده شیوه نه ده او تاسو د درې بیخ ته رسیږئ چې نسبتاً هموار سطحه ده. دا ځای یوازې څو یارده ارت دی او د غرهٔ ډډې په دواړو خواوو کې ستوغې دي. «که اړتیا پیښه چې کوم پوځي عملیات وسي» نو دا ډډې باید د کوتل له سره تر پوښښ لاندې ونیول سي. په دې پسې د ۱۰۰ یارډو په اوږدوالي د کوزیدلو لار راځي چې د سلیټ د ډبرو پر سر تللې ده. دلته دا تنګه دره دومره تنګه ده چې یوازې یو بار وړونکی څاروی په یو استوي توګه ورڅخه تیریدلای سي او همدا ځای په ټولې لارې کې تر ټولو بدتره ځای دی. د همدې لارې په بیخ کې چې د درې پای دی دوې نورې تنګې درې له دې درې سره یوځای کیږي. زموږ هغه ډلې چې له بلد او رهنما پرته په دې لارې ځي باید د کیڼ لاس ځانګه ونیسي ځکه لاره نوره څرګنده نـهٔ ده. د کوتل له سره په نیم مایل واټن کې دا تنګه دره د ۲۰ یارډو په اندازې پلنه کیږي؛ د لارې سختوالی ۱ په ۱۵ کې دی او د درې بیخ نسبتاً نرم دی او د سلیټ د ډبرو جغل لري. هر څومره چې کوزیږئ دا دره هم کرار کرار پراخیږي، د لارې د کوزیدلو سختوالی لږ توپیر کوي خو په اوسط ډول د لارې د مخکینی برخي په شان دی. د کوتل له سره ۲/۱ ۲ مایله وروسته شیوه لاره په محسوس ډول آسانه کیږي او د لارې په اوږدو کې په دواړو خواوو کې غرونه تر ۱۵۰ فیټو پورې لوړیږي چې تقریباً د لاسرسی وړ دي. دا تنګه دره په تقریباً ۲/۱ ۴ مایل کې اوس ۴۰ یارډه پراخیږي، ښي لاس ته «شمال لور ته» کږیږي او له بلې درې سره مخامخ کیږي. زموږ هغه ډلې چې د دې کوتل له لارې راځي باید په یاد ولري چې د تنګې درې په ځانګه کیدلو یا دو راهي کې ښی لاس ونیسي. له دې ټکې کوز دا تنګی ۶۰ یا ۷۰ یارډه پراخ دی او د لارې سختوالی له ۱ په ۲۰ کې ان ۱ په ۲۵ ته راټیټیږي. هغو مهمیزونو چې دا ځای ئـې محصور

[13] -WALI Or GET



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړی دی ۲۰۰ تر ۲۵۰۰ فیټو پورې لوړوالی لري او ختل ورته هيڅ سختي نـهٔ لري. هر څومره چې له تنګي څخه کوزيږئ د دغو مهميزونو لوړوالی ډيريږي. له کوتل څخه کوز په اووم مايل کې چې د ايلتاز له کاريز څخه ۱۰ ۲/۱ مايله واټن کيږي دا تنګه دره يا تنګی د ګرانيت ډبرو له باندني خط الرأس سره مخامخ کيږي او يو ناڅاپه کيڼ لور ته تاوييږي. دلته په کيڼ لاس کې د اوبو يوه چينه ده چې پينځه شپږ د توت ونو او دوه د ولي ونو ورباندې سيوری غوړولی دی. د دې ځای نوم «په پښتو کې د ولې له ونې څخه راغلی چې په براهوي کې ئې ګِت او په فارسي کې ئې بيد بولي» راغلی دی. د اوبو له دې چينې پورته د دوه وو کنډکونو لپاره د کمپ ځای کيدای سي تر لاسه دي چې يو کنډک د نالي يا د اوبو د چينې يوې خوا ته او بل کنډک ئـې بلې خواته ځاييدای سي؛ او نيږدې دوې رسالي د آس سپرو له دې ځايه کوز ځاييدای سي خو د دې ځای په هيڅ ټکي کې ښـهٔ ځمکه نـهٔ سته. د دې ځای اوبـهٔ پريمانه دي خو سون لرګي په کې په قلت موندل کيږي. د اوبو چينې ته نيږدې ټيټ قدي واښه هم په لږه اندازه سته. د ژمي له فصل پرته دلته د اوښانو د څريدلو لپاره ښـهٔ ښـهٔ ځايونه سته. که مخکې له مخکې مرتبات نيول سوي وي نو د شوآوک له کليو څخه د اړتيا وړ توکي راټوليدای سي. د ميرو خان تر کلي پورې واټن ۶ مايله دی. دلته مو يوه متقاطع لاره مخې ته راځي چې د اوبو له چينې څخه شمال لور ته د «موهت» تر کوتل پورې تللې ده. دا ناله يا د کاريز اوبـهٔ، د ګرانيټ د ډبرو له خط الرأس سره موازي له لنډ واټن وروسته، يو ناڅاپه ښي لاس ته تاويږي او د يوهٔ نرئ او نسبتاً مارپيچ تنګي له منځه تېرېږي. د تنګي لوړوالی تقريباً ۲۵ فيټه دی، دا لوړوالی څيرې او کنډوکپر دی او ختل ورباندې سخت دي. دلته د اساسي غرنی لړئ د ګرانيټ د ډبرو د توربخونو او سپين بخونو او براق يا ځلاندو رنګونو تضاد په ډيره څرګنده ښکاري. له تنګي څخه په تيريدلو دا لاره د نالي د بستر پل اخلي او د يوې تنګې او تقريباً نيغي يا مستقيمي لنډ لارې له منځه چې له پاسه ئې له يو بل ګډ سوي ګړنګونه ولاړ دي تيريږي. له کوتل څخه په ۲/۱ ۸ مايل کې دا لاره په يوهٔ دامان يا په يوې ډبريني تړانګي کې راڅرګنديږي. «کيدای سي» ميروخان د شمال لويديځ په ۲/۱ ۴ مايلی او زبردست په مستقيمي کرښې شمال لور ته ۵ مايله ليرې وي. لاره ښه ده خو لږ ډبرينه ده، او دا سيمه تقريباً مخ خلاصي ده. د همدې ځای په شاو خوا کې په دامان کې د اوښانو د څريدلو لپاره ښـهٔ ځايونه سته. د ايلتاز له کاريزه تر ميرو خان پورې واټن ۲/۱ ۱۶ مايله دی. د سرلت په ټولې لړئ کې دا يوازينی کوتل دی چې د بار وړونکو اوښانو د تګ لپاره عملي دی؛ خو سره له دې چې لاره په اکثريتو ځايونو کې ډيره نرمه ده بيا هم آسانه لاره نـهٔ ده ځکه د لارې شيب دروند دی، او د کوتل سر ته نيږدې تقريباً څو سوه يارډه لاره په قطعي ډول سخته ده. د کوتل دا برخه د عرابه لرونکو وسايطو لپاره قطعاً د تګ نـهٔ ده او د دې لپاره چې دا لاره د توپونو د ليږد لپاره عملي سي ډير کار ته اړتيا لري ان که له رسيو هم کار واخلي. کوتل ته نيږدې په کافي اندازې اوبـهٔ تر لاسه کيدای سي چې بايد ځمکه ورته وکيندل سي او دا اوبـهٔ کيدای سي د ۳۰ تنو او د هغوی د اوښانو لپاره کافي وي. «ميتلند، آی. بي. سي.» *د ولې په نوم يو کلی په ۱۹ ــ ۶۶ ، ۱۱ ــ ۶۶ «ن» کې موقعيت لري.*

**والو**: ۵۵ ــ ۳۱، ۴۲ ــ ۶۶ «ج»: دا د بلوڅ پر سرحد د ۱۰ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵» *کلی د رباط جلدک د سويل په څو مايلی کې دی.*

**وانک**: ۸ ــ ۳۱، ۳۶ ــ ۶۶: له مرغه چمن څخه د کدني تر سيند پورې ځای چې د توبې سيمې ته ورځي په همدې نوم ياديږي. «ميتلند»

**وانک ازکر**؟: دا د بلوڅ پر پولې د ۱۲ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**واندوز**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا یو ناله ده چي د ارغسان د سیند له ښي لوري د امین کلا په ستر کلي کي له ارغسان سره یو ځای کیږي. د دې نالي پر غاړې د عبداللطیف او میر علم کلي ودان دي. «مسي»

**ون جمال**: ـ۳۱، ـ ۶۵: دا د کندهار د شمال په ۱۱ مایلۍ کې د ارغنداب پر غاړې یو کلی دی.

* **ورث**: ورس: ۳۸ ـ ۳۳، ۲۵ ـ ۶۶ «ن»: دا یو کلی دی چي د ورث علیا په نوم هم یادیږي او د «شیوناکول» [14] له سویل ختیځ څخه د هلمند تر سیند پورې د لارې پر غاړې واقع دی. ورث سفلی سویل ختیځ لور ته ۳ مایله لیرې په ۳۶ ـ ۳۳، ۲۶ ـ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.

* **ورث علیا**: ۲۷ ـ ۳۳، ۶ ـ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کي د «کوهٔ دیرشي» [15] په شمال کي او د ګیزاب د شمال لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کي یو کلی دی. ورث سفلی ۱ مایل وړاندي ختیځ لور ته دی.

* **وردګي**: ۳۴ ـ ۳۳، ۱۷ ـ ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کي د آجرستان د شمال ختیځ په تقریباً ۸ مایلۍ کي د (امرستان) «باتور» [16] سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **وردګ کوټ**: ۵۴ ـ ۳۲، ۳۴ ـ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کي د روزګان د کلي د لویدیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کي د تیرین د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**وردنګ**: دا له کندهاره د نېش تر درې پورې د سرک په ښي غاړه کي یو کلی دی او په هغهٔ ټکی کي واقع دی چي لاره پر درې ورننوځي. دا کلی د پوپلزیو ۱۵ کورونه لري. د دې کلي ملک محمد علم نومیږي چي په قوم پوپلزی دی. «بومي معلومات ۱۸۷۹»

**ورجان**: ـ۳۲، ـ ۶۵: دا د خاکریز په بل اړخ کي د کندهار د شمال په تقریباً ۴۰ مایلۍ کي یو کلی دی. «بیسکو»

**وستازي**: ـ۳۱، ـ ۶۸: دا د تره کي تیوري ـ مقر ترمنځ لارې په اوږدو کي د دمي نیولو یو ځای دی. همدلته بې شمیره کاروېزونه سته خو د ټولو کاریزونو اوبهٔ تروې دي. «بومي معلومات، ۱۸۹۲»

**وشتان**: ـ۳۱، ـ ۶۵: دا د خاکریز په درې کي د مالمند د لویدیځ په ۳ مایلۍ کي یو کلی دی. دې کلي کي «په ۱۸۷۹» کي د پوپلزیو ۲۰ کورونه ول. «بومي معلومات، ۱۸۷۹»

**وټ تهانـه**: وګورئ: ګتي

**وازي خوا**: ۱۲ ـ ۳۲، ۲۱ ـ ۶۸ «ن» الف: دا د غرونو هغه لړۍ ده چي د سلیمان د غرونو د سیستم سویلي برخه جوړوي. د دې غرونو لوړوالی د دوی د سویلي منتهی الیه پر لور تر هغو ټیټیږي چي د ټیټو غرونو له یوې لړۍ سره یو ځای سي، دا هماغه لړۍ ده چي د لویدیځ پر لور ان تر «ارغسان لوړه» سیند پورې راکږه سوې او د قلات غلزایي په مقابل لور کي پای ته رسیږي. «آی. بي. سي.»

**وزیر**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د کشوبي «خوږي اوبهٔ - ژ» په درې کي یو کلی دی. «کلیفرډ»

**وزیر کاریز**: ـ۳۱، ـ ۶۵: دا د کندهار د شمال ختیځ په ۴ مایلۍ کي یو کلی دی. «بیسکو»

---

[14] - Shiwnakul
[15] - Koh- i- Dirshi
[16] - Amrestan (Batur) river


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**وِلګی**: ۳۱ ــ ۳۱، ۱ ــ ۶۶ «ج»: دا د کندهار د ختیځ په ۲۷ مایلی کې په ختیځ کې د ترنک او د ارغسان د سیندونو تر منځ یوهٔ خط الرأس کې د دمې نیولو یو ځای دی. دلته د اړتیاوړ توکي نـهٔ سي ترلاسه کیدای او اوبـهٔ ئـې یوازې له کاریزونو څخه دي. «لمسدن»

**وروسکی څوپی**: [17]: دا نوم هغې نالې ته ورکړل سوی دی چې د «شګه ناړې» [18] کوتل ته نیږدې سر راپورته کوي او مخ پر سویل د «پسین لوړه» پر خوا بهیږي او د خجیر له کلي ۱ مایل کوز د پسین لوړه له سیند سره یو ځای کیږي. «بن»

**وچه**: ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا یوه ناله ده چې مخ پر شمال کوزیږي او د رشید له کلا ۵ مایله کښته د کند له سیند سره یو ځای کیږي. ویل سوي چې دې نالې کې اوبـهٔ سته او د وچې په اوږدو کې د پام وړ کرهنه سوې ده. «بن»

**وچه مرغه**: ۵۵ ــ ۳۱، ۲۴ ــ ۶۷ «ج»: دا له دیرهٔ اسمعیل خان څخه تر قلات غلزایي پورې د سړک په اوږدو کې د کافر چاه د شمال ختیځ په تقریباً ۲۶ مایلی کې د دمې نیولو ځای دی. د بهوسې په ګڼون د اړتیا وړ توکي دلته ترلاسه کیدای سي. دلته د کاریز پریمانه اوبـهٔ سته خو خوراک توکي په کې په قلت دي او وابښـهٔ هم دلته نـهٔ سته. «بن، له بومي معلوماتو څخه ۱۸۹۴»

**وچ غبرګ**: وچ بار: ۳۶ ــ ۳۱، ۴۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د «ارغسان لوړه» پر ښی غاړې یو ستر سمسور کلی دی؛ دا نوم زموږ یو شمیر افسرانو په سمه په اختصار د «وچ بَرَک» [19] په توګه لیکلی دی او یو لږ شمیر افسرانو د «کش برک» [20] په ډول لیکلی چې سمه بڼـهٔ ئـې نـهٔ ده؛ دا د «وچک برګ» [21] په نوم هم پیژندل کیږي. (صحیح لیکنیزه بڼه ئـې کیدای سي «وچه غبرک» [22] وي.)

دا د آسانزیو د کلیو د ډلې شمال کې او د دغو کلیو له پاسه په رنګ تیارهٔ خط الرأس لمن کې واقع دی او د لوړه سیند مخکې له دې چې له غرونو څخه د یوې مخ خلاصې درې پر لور راووځي د دې خط الرأس ګرد چاپیر بهیږي. دا د یوې لارې په وسیلې په «ګواړې» [23] یا د «ګواړې په درې» کې د «شیر خان له کلا» سره وصل سوي چې د توپونو د وړلو لپاره عملي لاره ده «خو کیدای سي په یوهٔ یا دوه وو ځایونو کې د توپونو د کشولو لپاره رسیو ته اړتیا پیښه سي او کیدای سي په نورو ځایونو کې لاره بدله کړئ» چې واټن ئـې له شمال لویدیځه مخ پر شمال ۸ مایله او له «سربلند» څخه ۱۲ مایله لیرې دی، دا د کمپ هغه سیمه ده چې شرحه ئـې بل چیرې راغلې ده او د «امین د کلا» او «مرغانکیچې» له لارې تر کندهار پورې د هغـهٔ سړک پر غاړه واقع ده چې د «لوړه او ارغسان» په درو منتهي کـیږي. دا لاره «وچ بر غوبرک» [24] ته نیږدې له یوې لویـې او نسبتاً سختې نالې څخه تیریږي. د مسي د راټولو سویو معلوماتو پر بنسټ یوه بله لاره هم سته چې تر قلات غلزایي پورې د عرابه لرونکو وسایطو د لیږد لپاره عملي ده. خو دا کیدای سي هماغه لاره وي چې پورته مو د شیر خان د کلا له منځه تیریدونکې لاره یاده کړله. کلیفرډ ته چې دا کلی ئـې یوازې له لیرې لیدلی وو وویل

17 - WRUSKAI TSOPAI
18 - Sheganrai pass
19 - Wuchbarak
20 - Kush -barak
21 - Wuchak -barg
22 - Wacha Ghbarak
23 -Gwari or Gwari valley
24 -Wuchbar Ghoberak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سول چې دا کلی د سیند له غاړې ښخه یو لړ څه لیرې دی خو دا کلی خپله ځان ته یو کاریز لري چې اوبهٔ ئي ډېرې او ښې دي او دا خبره د هغهٔ ځواک د ورځنیو یاد داشتونو له شرحې سره سمون خوري چې دا کلی ئي د ۱۸۷۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې لیدلی وو. دلته سون لرګي هم پریمانه دي او د اړتیا وړ توکي هم دلته او هم د کلي په ګاونډ کې د آسانزیو له شتمنو کلیو ښخه او هم د آسان زیو او ابو زیو له سیمو ښخه ترلاسه کیدای سي؛ یاد سوي ځواک ۳۵ مونډه غلات او ۲۰ مونډه بهوسه وکولای سول راټوله کړي. ایوان سیمت وايي چې د هوتک «غلزیو» سیمه چې د «لوړه په درې کې» د «وچ بَر غوبرک» کلي ته نیږدې پیل کیږي ښايي هماغه سیمه وي چې پورته ئي شرحه ورکړل سوه.

له «وچ بر غوبرک» ښخه د هیلو ګرافی له لارې اړیکه هم د «زیږې د غرهٔ» [25] یا د «شیخ خان د غرهٔ» [26] له لارې د «تنګک» [27] له کوتل سره او بیا له کندهار سره ټینګیدای سي. «کلیفرډ، مسي، ایوان سمیت»

* **وچ خوارهٔ**: [28]: ۲۹ – ۳۱، ۲۱- ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د رشید له کلا ښخه د سرک پر غاړې د «بابکر د غرهٔ» [29] د لویدیځ په څو مایلی کې یو کلی دی.

* **ولګي: ولګی**: ۳۲ – ۳۱، ۵۱ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ثلثون او معروف د ناوې د یو ځای کیدني ټکي ته نیږدې د ارغسان د سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **ونګره**: ۱۲ – ۳۱، ۲۱- ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «ډبری» د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې د خوړوبې د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**یا محمد**: «**یار محمد** – ژ»: ۳۶ – ۳۱، ۵۱ – ۶۵: دا د کندهار د ختیځ په ۲/۱ ۹ مایلی کې مهمند ته د لارې په اوږدو کې یو کلی دی. «بیسکو»

**یحیی خان**: – ۳۱، – ۶۵: دا د کندهار د سویل ختیځ په ۸ مایلی کې عبدالله کاریز ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»

**یحیی ونه**: ۵۰ – ۳۱، ۸ – ۶۸ «ن»: دا د خضر څاه د شمال لویدیځ په ۱۱ مایلی کې په هغهٔ ټکي کې د دمې نیولو یو ځای دی چې د قمر الدین کاریز او د تره کي تیوري لارې له یو بل سره تلاقي کیږي او شمال ته مخ پر قلات غلزایي ورځي. ویل سوي چې دلته د اوبو دوې چینې سته. «بن» *اوسنی نقشې د «درخت یحیی» نوم او یو غر چې د «یحیی ونه غر» په نوم یادیږي ښیې.*

* **یښک**: ۵۱ – ۳۲، ۳۰ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د روزګان د کلي د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۲ مایلی کې د تیرین د سیند د سویل په ۱ مایلی کې یو کلی دی.

* **یخدان**: ۵۷ – ۳۲، ۲۸ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «کیشي» [30] د ختیځ په ۲ مایلی کې د «سخر» [31] د سیند پر غاړې یو کلی دی.

25 -Zijha hill
26 -Shekh Khan hill
27 -Tangak Kotal
28 - WUCH KHWARA
29 -Babaker Ghar
30 - Keshay
31 - Sakhar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**یخچال**: ۴۷ – ۳۱، ۴۱ – ۶۴: دا له کندهاره تر گرشک پورې د سړک پر غاړې د دمې نیولو یو ځای دی. دا ځای له گرشک څخه ۱/۲ ۸ مایله لیرې دی. دلته له هلمند څخه د راغځیدلي نهر اوبۀ سته. دلته هیڅ ځوک استوگنه نـۀ لري او نـۀ هم د اړتیاوړ توکي په کې سته او نـۀ سون لرگي. یخچال د کندهار او د فراه د ولایتونو تر منځ پولې ته نیږدې موقعیت لري. «بیت. ۱۸۹۳»

**یکیر**: ـ۳۲، ـ ۶۶: دا د ارغنداب په درې کې د میزان د ولسوالۍ یوه علاقه داري ده. «بیسکو»

**یار محمد**: وگورئ: سالارزي: ۵۸ – ۲۹، ۵۹ – ۶۵ «الف»

* **یارو کلی**: ۲۷ – ۳۱، ۳۲ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په سویل لویدیځ کې د «ریگوه»[32] مخالف لور کې، د ترنک د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**یتیمک**: ۴۴ – ۳۱، ۴۴ – ۶۵: دا د ارغنداب د سیند پر کیڼې غاړې یو کلی دی چې د کندهار د شمال په ۱۱ مایلی کې مرنجان ته نیږدې موقعیت لري. «بیسکو»

* **یوسف خیل**: ۳۳ – ۳۱، ۴۱ – ۶۶: دا د کندهار په ولایت کې د «لوړه د سیند» پر غاړه د ارغسان د کلي د ختیځ په ځو مایلی کې یو کلی دی.

**زبر دست**: ۵ – ۳۰، ۵ – ۶۶ «ج»: دا د ښوراوک د ولسوالۍ د شیرانیو په علاقه کې د «لوړه او د سرلت» د غرنۍ لړۍ تر منځ یو کلی دی. دا کلی د «ولي د کوتل» له مدخل څخه ۵ مایله لیرې، د «ولي» له چیني څخه ۱/۲ ۶ مایله او د «ایلتاز» له کاریز څخه ۱۷ مایله لیرې موقعیت لري. د «موهت د کوتل» مدخل له دې ځایه ۲ مایله لیرې دی او په همدومره واټن د «سلواتو کوتل» هم لیرې دی. د «پُتـله خان کلی» شمال ختیځ لور ته ۳ مایله او «میروخان» سویل لویدیځ ته ۲ مایله لیرې دی. «جت پوټي» ۹ مایله او د «میر علم کلا» ۱/۲ ۸ مایله لیرې ده.

دا کلی د [بارام زیو «بهرام زیو – ژ» شیراني بریڅو] ۸۰ جونگړې لري. دلته د یوۀ سرای یا د یوې استحکامي محوطې د نورو ودانیو د ورانو ویجاړو پاتې شوني سته چې دا ډول کنډوالې په ټول ښوراوک کې پریمانه دي. دلته یوه ښایسته لویه ونه سته چې له لیرې څخه د کلي نښه ده. د اوبو لگولو له نهر څخه د ځښاک اوبـۀ ئـې ښې دي او کلي کې ۲ ژورې ځاه گاني سته. دلته د کمپ لپاره پریمانه ځای سته. د اړتیا وړتوکي په عام ډول له دې ځایه او له گاونډیو کلیو تر لاسه کیدای سي. د دې ځای خلک بزگران دي، بې آزاره او د نیک چارچلند خاوندان دي.

د لوړه سیند د کلي د شمال لویدیځ په ۱ مایلی کې بهیږي. سیند دلته له ۲۵۰ تر ۳۰۰ یارډو ارت دی. دلته د سیند غاړې د پشین په شان نا هموارې او ۲۵ فیټه لوړې دي. د سیند په بستر کې د شین غزي «گز» ونې گڼې وډې شنې سوې دي؛ د سیند په بستر کې بهاندې اوبـۀ نـۀ سته، د سیند دائمي اوبـۀ ټولې د ځمکو د خړوبولو لپاره گرځول سوي دي. سیند د واورو له ویلې کیدلو یا له درندو بارانونو وروسته سیلابي کیږي؛ او دا مهال له سیند څخه اوښتل د یوې یا دوه وو ورځو لپاره نا شوني کیږي. له زبر دست څخه ۲ لارې له سیند څخه پورې غاړه تللي دي چې له یو بل څخه نیم مایل لیرې دي. د پورتنی لارې نښـۀ ئـې د شین غزي «شنه زي»[33] یوه لویه ونه ده. په دغو لارو کې یوه ئـې په عام ډول ځکه ډیره نـۀ کارول کیږي

---

[32] - Regwa
[33]- shnazai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي په اوړدو کي ئـي ډېر پټي راغلي دي. د سیند بستر ته کوزیدل او د سیند له بستره پورته ختل د اوښانو لپاره آسانه دي خو د توپونو د لیږدلو لپاره لاره باید ریونده سي. «میتلند»

**زبـګي:** ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا د کرهنیزي ځمکي یوه کوچنۍ ټرانګه ده او ځو جونګړي هم په کي سته چي د بیانزیو جونګړي دي او د کدني د سیند پر ښۍ غاړه له بیانزیو ۲ مایله پورته موقعیت لري. «بن»

## نوربیا

## * زابل:

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د ځلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ